
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لړم اوومه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۸مه | ۶۱۹مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### د جغرافيې بنديان




د جغرافيې بنديان کتاب د نړيوال سياست په برخه کې د هېوادونو ترمنځ د ارضي ستونزو په اړه بحث کوي.

# مذاکرات او د تاوتريخوالي اوج؛

## په خوست کې د وسله والو ډله ييز بريد افغان ځواکونو او ملکيانو ته درنه مرګ ژوبله اړولې



۳

د شپږو زرو ملکيانو مرګ ژوبله د څه لپاره؟ ۲ مخ

د ژمي په رارسېدو سره د کرونا خطر زياتېدای شي ۲ مخ

سوله؛ ليدلوري او وړاندوينه ۳ مخ

### کرنې رياست: روان کال د ننګرهار د جلغوزيو په حاصلاتو کې ۳۸ سلنه زياتوالی راغلی



د ننګرهار د کرنې او مالدارۍ رياست په دغه ولايت کې د جلغوزيو د ځنګلونو تر ارزونې وروسته، په روان کال کې د جلغوزيو د ۳۸سلنې زياتوالي خبر ورکوي.

د ننګرهار دکرنې رياست د چارواکو په خبره، د جلغوزيو د ځنګلونو ارزونه ښيي، چې د جلغوزيو سږني حاصلات به ٦٢٧ ټنه وي، چې د تېرکال په پرتله ۳۸ سلنه زياتوالی ښيي. د دوی په خبره، تېرکال د دغه ولايت د جلغوزيو حاصلات ۴۵۵ ټنه وو.

د ننګرهار د کرنې رياست وايي، چې ياد ولايت څه باندې ۷۰ زره او ۵۹۴ هکتاره د جلغوزي، غوزانو او نورو مېوه لرونکو او بې مېوې طبيعي ځنګلونه لري، چې له دې ډلې ۱٦.۵ سلنه يې د جلغوزې په ونو پوښل شوي دي.

د ننګرهار د کرنې رياست چارواکي زياتوي چې سږکال د دغه ولايت د جلغوزيو حاصلات زيات شوي، چې ورسره به په ياد ولايت کې د جلغوزيو په کاروبار د بوختو کسانو ژوند مثبت بدلون وکړي.

### خليلزاد: سيمه ييز ورانکاري افغانان د خپلو نا مشروعو موخو لپاره استعمالوي

د افغان سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي خليلزاد خبرداری ورکړی چې د سياسي جوړجاړي د ترلاسه کولو لپاره فرصت تل نه وي. د امريکا د بهرنيو چارو وزرات په يوې اعلاميې کې ويلي چې ښاغلی خليلزاد پرون ناروې ته ولاړ چې د افغان سولې په اړه د نړيوالو په همکاريو بحث وکړي.

خليلزاد په خپل ټويټر کې ليکلي: «زه سيمې ته بېرته خواشينی را وګرځېدم، د اورکم د کموالي له ژمنو سره سره بيا هم اور کم نه شو. د سياسي جوړجاړي لپاره کړکۍ تل پرانيستې نه وي.»

خليلزاد په خپل ټويټ کې د سيمې ورانکاري تورن کړي چې د افغانانو وينې تويوي، خو نوموړي د هېڅ يو هېواد او يا کوم کس نوم نه دی ياد کړی. د نوموړي په خبره: «افغانان ډېر مري او سيمه ييز تخريبکاران افغانان د خپلو نا مشروعو اهدافو لپاره د وسيلې په توګه کاروي. وينه تويېدنه بايد ختمه شي.»

په ورته وخت کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په اعلاميه کې ټينګار شوی چې بايد د افغانانو د وينې تويېدو د مخنيوي لپاره دواړه خواوې د خشونت او تاوتريخوالي په کمولو موافقه وکړي چې يو هر اړخيز او دايمي‌اوربند ته لاره پرانيستل شي.

د يادونې ده چې خليلزاد به د ناروې له چارواکو سره د خبرو تر څنګ د قطر له چارواکو او د اسلامي جمهوريت او طالبانو د مذاکراتي پلاوو سره هم خبرې وکړي چې په افغانستان کې د ځلوېښت کلنې جګړې ختمولو لپاره په يوې سياسي نقشې موافقه وکړي.

### يوناما: په تېرو نهو مياشتو کې نږدې شپږو زرو ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې



۵ مخ

### سازمان صحی جهان: نزدیک به ۱۰ میلیون کودک در افغانستان واکسین پولیو می‌شوند



سازمان صحی جهان می‌گوید، در نظر دارد تا واکسین پولیو را بر نزدیک به ۱۰ میلیون کودک زیر سن ۵ سال در افغانستان تطبیق کند. این سازمان در تویتر نوشت، کمپاین نخست واکسین فلج کودکان بنابر همه‌گیری ویروس کرونا در افغانستان به تعویق افتاده بود.

میر جان راسخ مسئول برنامه آگاهی‌دهی پولیو در افغانستان، به رسانه ها گفته است که از آغاز سال ۲۰۲۰ میلادی تا اکنون، ۵۳ واقعهٔ مثبت این بیماری در افغانستان ثبت شده‌است.

سازمان صحی جهان می‌گوید، بر ۹ میلیون و ۹۰۰ هزار کودک واکسین پولیو را تطبیق می‌کند. این سازمان از تمامی جناح‌ها در افغانستان خواسته تا در عملی کردن کمپاین فعلی همکاری کنند. افغانستان، پاکستان و نایجریا تنها سه کشوری در جهان اند که وقایع مثبت فلج کودکان تا هنوز در آن‌ها وجود دارد.

این در حالیست که افغانستان با وجود جنگ ها و ویروس کرونا به تهدید جدی پولیو نیز مواجه می باشد. با وجود اینکه واکسین پولیو هر سال در اکثریت بخش های افغانستان تطبیق می شود اما در ولایت های دور دست هنوز هم در مقابل آن موانع موجود است که تطبیق آن به مشکلات مواجه شده است.


## اعلان!

شرکت طلوع آرمان شهر میخواهد یک مقدار اجناس را که شامل لوازم برقی، دفتری، فرنیچر وسایلIT را در یک پروسه مزایده لیلام نماید.

از تمام دوطلبان واجد شرایط که علاقمندی اشتراک در این لیلام را دارند، لطف نموده به شماره تیلفون ۰۷۹۹۳۰۵۰۲۰ در تماس شده، شرطنامه را ملاحظه نموده و فورم ثبت نام راه خانه پری نموده و الی تاریخ ۹ عقرب سال ۱۳۹۹ روز جمعه به آدرس الکترونیکی این شرکت ارسال نمایند. ثبت نام از طریق آدرس الکترونیکی ذیل صورت میگرید:

info.tasl.company@gmail.com

**محل برگذاری و تاریخ لیلام بعداً از طریق تلیفون اطلاع داده میشود.**

دریـــځ

## د شپږو زرو ملکیانو مرگ ژوبله د څه لپاره؟

ملگري ملتونه وايي چې د سولې د خبرو تر پيلېدو وروسته لا هم په افغانستان کې خونړۍ جگړې روانې دي او د ملکي وگړو په مرگ‌ژوبله کې کموالی نه دی راغلی. په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د مرستندويه دفتر يا يوناما له لوري د ملکي مرگ‌ژوبلې په اړه په خپاره شوي راپور کې راغلي چې د روان ۲۰۲۰ز کال له پيله تر دې دمه ۵۹۳۹ افغان ملکيانو ته مرگ ژوبله اوښتې چې له دې ډلې ۲۱۱۷ ملکيان وژل شوي او ۳۸۲۲ نور ټپيان دي. يوناما طالبان او بيا حکومت د ډېرې ملکي مرگ ژوبلې عاملين گڼي، خو پوښتنه دا ده چې نږدې شپږو زرو ملکي وگړو ته ولې او د څه لپاره مرگ ژوبله اوښتې ده!؟

لومړی خو دا شمېره هغه دي چې يوناما را ټولې کړي دي، خو اټکل دی چې واقعي شمېرې به تر دې ډېرې لوړې وي؛ ځکه چې له يوه اړخه يوناما يو اړخيز چلند کوي او له بله اړخه د افغانستان ډېره برخه د يوناما او نورو څارونکو له سترگيو پټه ده. دويم دا چې د دې ټولې مرگ ژوبلې عاملين چې د جگړې اړخونه دي، نه مني چې ملکيان يې وژلي او يوازې مقابل اړخ تورنوي، خو واقعيت دا دی چې د جگړې دواړو اړخونو په قصدي ډول او په ځينو حالتونو کې په تېروتنه ملکي وگړي وژلي دي، خو بيا يې له خپلو کړنو يو مخ انکار کړی دی.

روانه جگړه له هېڅ لوري او په هېڅ ډول د توجيه وړ نه ده. کله چې طالبان له امريکايانو سره تړون کوي، نو بيا خو يې په کور دننه جگړه د توجيه وړ نه ده او که دوی هر څو دا توجيه کړي، خو هر څوک پوهېږي چې د دې جگړې مشروعيت نشته. له بله اړخه کله چې د طالبانو اصلي دښمنانو؛ طالبان ومنل، خبرو ته ورسره کښېناستل، د هغوی غوښتنې او شرايط يې ومنل او توافق يې ورسره وکړ، نو حکومت چې د دغو بهرنيانو په مرسته چلېږي او هغوی يې بنسټ ايښی، څنگه له طالبانو سره جگړه کوي او له هغوی سره توافق نه کوي!؟

طالبان بايد ومني چې جگړه يې نوره له پخواني مشروعيت څخه لوېدلې ده او حکومت هم بايد ومني چې طالبان نور نه ماتېدلی شي او نه هم هېرېدلی شي. له همدې امله دواړه اړخونه بايد توافق وکړي او يو بل ومني. له دې پرته به جگړه دوام کوي، هغه جگړه کې يوازې په نهو مياشتو کې پکې شپږو زرو ملکي وگړو ته مرگ‌ژوبلې اوښتې ده. د جگړې لوري د دې مرگ‌ژوبلې له دنيوي او آخروي دواړو مسووليتونو ځان نه شي ژغورلی او په دې اړه به حتمي ځواب ويونکي وي. ستونزه په انکار هم نه حل کېږي چې دوی له دې مرگ ژوبلې انکار وکړي، ځکه خلکويني چې څه ډول د دواړو لورو په بريدونو او جگړو کې ملکي وگړي وژل کېږي، ټپي کېږي او نور زيانونه ويني. له همدې امله دوی بايد د مرگ‌ژوبلې د مخنيوي لپاره اساسي کار وکړي او هغه د بين الافغاني خبرو پيل، کاميابي، د جگړې خاتمه او سوله ده.

# د ژمي په رارسېدو سره د کرونا خطر زياتېدای شي

لیکوال: اعظم منور

دې ته په پام سره چې د ژمي په رارسېدو سره په ځينو هېوادونو کې د کرونا ويروس د نوې څپې راپيدا کېدو خبرونه ورکړل شوي، له خلکو سره يوځل بيا د ياد ويروس په اړه اندېښنې زياتې شوې دي.

که څه هم د کرونا ويروس د اصلي سرچينې په اړه بېلا بېل نظرونه شتون لري، خو کابو يو کابل وړاندې په چين کې و پېژندل شو او په چټکۍ سره د زياتېدو په حال کې و چې امله يې د نړۍ طبي ټولنو د ياد ويروس د لا پېژندنې، ورسره د مبارزې لارو چارو، درملنې او واکسين په اړه چټکې څېړنې پيل کړې. تر اوسه د گڼ شمېر واکسينونو د جوړېدو خبر ورکړل شوی، خو لا د گوتو په شمېر واکسينونه د کلينيکي ازموينې پړاو ته رسېدلي دي.

لنډه دا چې دغه ويروس لا هم د يوه نړيوال خطر په توگه باقي دی او هېڅ دايمي حل يې نه دی پيدا شوی، که څه هم ښايي په نږدې راتلونکي کې ځينې واکسينونه د کلينيکي ازموينې له پړاو څخه په برياليۍ توگه ووځي او د عامه تطبيق وړ شي، خو د رسنيو د معلوماتو له مخې، د يادو واکسينونو د توليد کچه به په لومړيو کې د نړۍ د نفوس په پرتله ډېره کمه وي او خو چې د نړۍ ټولو وگړو ته رسېږي، ښايي کال يا کلونه وخت ونيسي. نو ځکه د اوس لپاره بايد خلک يوازې وقايې ته پاملرنه وکړي او په جدي توگه يې عملي کړي.

که په عمومي ډول د ويروس پېژندل کېدو کابو يو کلن تېر وخت ته پاملرنه وشي، نو ښايي چين يوازينی هېواد وي چې په خپل هېواد کې يې له کرونا ويروس سره مبارزې مثبته نتيجه درلودلې او کنټرول دی، خو دا چې د دې نتيجې مهم راز په څه کې دی، دلته يې څو مهمو ته يادونه شوې:

ورېيا ازموينه

په چټکۍ او وړيا توگه د خلکو طبي ازموينې د ياد ويروس په کنټرول کې تر ټولو مهم رول لوبولی او هغه کسان چې د ازموينې نتيجه يې مثبته وي، کرنتين او يا اړوندو روغتونونو ته ور پېژندل کېږي، تر څو له يادو کسانو څخه نورو ته د ويروس د انتقال د خپرېدو مخه ونيول شي.

د روغتيا نړيوال سازمان عمومي مدير معاون، بروس ايلوارډ د ۷۶ ورځو لپاره د ووهان ښار (چېرته چې د لومړي ځل لپاره د کرونا ويروس وپېژندل شو) چټک کرنتين د چين د دولت د ستاينې وړ اقدام و.

د ناقلينو پيدا کول

بل مهم اقدام د ناقلينو يا په ياد ويروس د ککړو کسانو ژر پيدا کول دي. دا چې ياد ويروس په ډېرې چټکۍ او مرموز ډول د خپرېدو وړتيا لري، نو ځکه يې په هماغه لومړيو کې د ناقلينو پيدا کول او کرنتين کول ډېر اهميت لري.

چيني شرکتونه بايد خپلو کارمندانو ته د سلامتيا تاييد لپاره يو (کيو آر) کد جوړ کړي او دغه کد د ياد کس د سالم توب تاييد دی او په دې توگه په چين کې د مېشتو بهرنيانو په شمول ټول خلک په خپلو گرځنده ټليفونونو کې د سلامتيا د تاييد اپلېکشنونه لري او عامه ځايونو او دفترونو ته د داخلېدو پرمهال يې اړوندو کسان گوري او له تاييد وروسته د ننوتلو اجازه ورکوي چې په دې توگه د ويروس څارنه ډېره ساده شوې.

د همدې تدابيرو په نتيجه کې د سپټمبر په اتمه چين په خپل هېواد کې د کرونا ويروس سره په مبارزه کې د برې خبر ورکړ.

که څه هم له يادې نېټې وروسته هم په ځينو سيمو کې د کرونا د محدودو مثبتو پېښو خبر ورکړل شو، خو دا چې مخکې له مخکې يې په اړه تدابير نيول شوي، نو يادې پېښې يوازې تر هماغو ناروغانو محدودې پاتې شوې او نورو ته يې سرايت نه دی کړی.

لنډه دا چې افغانان دې د واکسين په تمه نه کېږي، بلکې خپل پام دې وقايوي چارو ته واړوي، ځکه د ژمي او سړې هوا په رارسېدو سره د دغه ويروس د زياتېدو خطر لا پر خپل ځای دی.

# مذاکرات او د تاوتريخوالي اوج؛

## په خوست کې د وسله والو ډله ييز بريد افغان ځواکونو او ملکيانو ته درنه مرگ ژوبله اړولې



په هېواد کې د تازه نښتو او بريدونو په دوام، په خوست کې هم د ځانگړو پوليسو پر يوه قرارگاه ډله‌ييز بريد وشو. خوست له نسبتاً امنو ولايتونو بلل کېږي، خو د تازه پيل شوي تاوتريخوالي لمن دغه ولايت ته هم ورسېده. لسو بريدگرو په يوه ځای د ځانگړو ځواکونو پر مرکز بريد وکړ او نښتې نږدې لس ساعته دوام وکړ. په پايله کې يې گڼو سرتېرو او ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. د ملي شورا غړي بيا دغه ډول بريدونه د سولې د پروسې د سبوتاژ هڅه بولي او گڼو افغان چارواکو ياد بريد غندلی هم دی. پرون سهار شاوخوا شپږ بجې د خوست ښاريانو ورځ په درنه چاودنه پيل شوه.

ځانمرگو بريدگرو د خوست ښار په څنډه کې د ځانگړو ځواکونو پر مرکز موټربم بريد وکړ. تر هغه وروسته نور بريدگر دغه مرکز ته ننوتل او له افغان سرتېرو سره يې جگړه پيل کړه. د نښتې په جريان کې دوه نور موټربم بريدونه هم شوي دي. په لومړۍ چاودنه کې د معلوماتو له مخې، پنځه افغان سرتېري وژل شوي او تر ۲۵ پورې نور ټپيان شوي دي، خو په دوو نورو چاودنو کې تلفات نه دي اوښتي. له ځانمرگو بريدگرو سره د افغان سرتېرو په نښته کې هم تلفات اوښتي دي. په خوست کې د ځانگړو پوليسو د قطعې يو سرتېره وايي، چې چاودنې خورا درنې وې، خو د لويوالي هومره تلفات يې نه دي اړولي. د ده په خبره: ((ترهگرو درې موټربم بريدونه وکړل، خورا لوی بريدونه وو، خو تلفات يې هومره نه وو او په خپل پلان کې ناکام شوي)).

د خوست ځايي چارواکي وايي چې له لسو بريدگرو سره نښتې پوره لس ساعته دوام وکړ او د ټولو بريدگرو په وژل کېدو پای ته رسېدلې ده. د خوست د امنيې قوماندان غلام داوود تره خېل په سيمه کې تر عملياتو وروسته خبريالانو ته ويلي چې افغان سرتېرو له بريدگرو سره کلکه مبارزه وکړه او تر لس ساعته نښتې وروسته دوی له پښو غورځول شوي دي. د ده په خبره: ((په پېښه کې د ځانگړې قطعې پنځه سرتېري وژل شوي دي او نهه ملکيان هم ټپيان دي)). تره خېل همدا راز وايي چې په پېښه کې پنځه ويشت سرتېري ټپيان شوي هم دي.

د بريد مسووليت تر دې دمه کومې ډلې نه دی منلی، خو د خوست امنيت قوماندان يې د وسله والو طالبانو يا حقاني شبکې کار بولي. بلخوا د خوست والي صديق پتمن بيا وايي چې وسله والو غوښتل افغان پوځ ته درانه تلفات واړوي، خو په خپله موخه کې نه دي بريالي شوي. د ده په خبره: ((دوی درې موټربمه راوستي وو، له بده مرغه يوه يې چاودنه کړې او دوه مو خنثی کړي دي)).

د خوست د عامې روغتيا رياست وايي چې د پېښې له سيمې ۳۳ ټپيان او د درېو کسانو جسدونه ور وړل شوي دي. سرچينه وايي، چې وژل شوي افغان سرتېري دي، خو په ټپيانو کې د ماشومانو په گډون ملکي وگړي هم شته دي.

بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا رييس په خوست کې د افغان ځواکونو پر دغه مرکز بريد غندلی او هغه د سولې په لار کې د خنډ جوړولو په مانا بولي. د ملي مصالحې عالي شورا رييس ډاکټر عبدالله عبدالله وايي، د دې وخت دی چې روان تاوتريخوالي ته نور د پای ټکی کېښودل شي او له دغه ډول ظالمانه بريدونو ډډه وشي.

بريد داسې مهال کېږي چې تازه په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندويه دفتر د روان ميلادي کال د ملکي تلفاتو ارقام هم خپاره کړي دي. يوناما وايي چې روان کال ۵۹۳۹ ملکي وگړو ته تلفات اوښتي چې له دې ډلې ۲۱۱۷ يې وژل شوي او ۳۸۲۲ يې ټپيان دي. يوناما هيله څرگنده کړې چې د سولې روان مذاکرات وکړی شي د ملکي تلفاتو کچه راټيټه کړي.

د سولې له خبرو سره هممهاله دغه ډول تاوتريخوالي او خونړيو بريدونو افغانانو ته اندېښنې پيدا کړې دي، چې هسې نه په افغانستان کې د جگړې يو نوی پړاو پيل شي. د مشرانو جرگې غړې گلالۍ نور ساپۍ وايي، دغه ډول بريدونه د سولې پروسې د سبوتاژ لپاره دي او بايد نړيواله ټولنه دې هر څه ته متوجه وي او دلته دې د روانې جگړې په ختمولو کې خپل مسووليت ادا کړي.

# راپورونه: امريکا د ايران د تېلو پر يو شمېر شرکتونو او موسسو سخت بنديزونه لگولي

د راپورونو له مخې، د امريکا متحده ايالتونو پر ايران نوي بنديزونه لگولي دي. د بنديزونو په دې نوې لړۍ کې چې له تهران سره د سترو ځواکونو له اټومي تړون څخه د واشنگټن تر وتلو وروسته څه باندې دوو کلونو کې پرله پسې لگېدلي، د ايران هغه شرکتونه، موسسې او څېرې په نښه شوي، چې د دغه هېواد په تېلي ډگر کې فعال دي.

د امريکا د خزانې وزارت وايي، نوي بنديزونه د قدس ځواک چې د انقلاب ساتونکي گارډ بهرنۍ پوځي او استخباراتي څانگه ده، لگول شوي دي. د خزانې وزير سټيون منوچين په يوه وينا کې ويلي چې د ايران رژيم د خپلو تېلو عوايد د انقلاب ساتونکي ځواک پر قُدس څانگې لگوي چې ناکراريو ته لمن ووهي.

د هغه په وينا، د ايران رژيم لا هم د بهرنيو ترهگرو ډلو او خپل اټومي پروگرام ملاتړ د ايران تر ولس غوره بولي. په نويو لگول شويو بنديزونو کې د ايران د تېلو وزارت، د ايران د تېلو ملي شرکت او د ايران د ټانکرونو ملي شرکت راځي. د بنديزونو له مخې، په امريکا کې د دغو شرکتونو هر ډول شتمنۍ کنگلېږي او له هغو سره د امريکايانو هر ډول معامله بندېږي.

له دې سره جوخت په دغو اقداماتو کې د ايران پر ملي ټانکري شرکت او ملي پتروکيميايي شرکت د ترهگرۍ ضد برخې بنديزونه هم راځي چې مخکې د واشنگټن له خوا د جلا واکونو له مخې تور لېست ته اچول شوي وو.

د تهران او واشنگټن ترمنځ ترينگلتيا له هغې وروسته مخ په ډېرېدو شوه، چې ولسمشر له هغه هېواد سره له اټومي تړون څخه چې ولسمشر بارک اوباما په ۲۰۱۵ ز کال کې لاسليک کړی و، په ۲۰۱۸ ز کال کې په يو اړخيز ډول ووت.

له هغې راهيسې امريکا پر ايران بنديزونه چې د دغه تړون له مخې نرم شوي وو، له سره ولگول او يو شمېر نور يې پرې ورزيات کړل. د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو وايي، دا بنديزونه د هغو اعظمي فشارونو برخه ده چې موخه يې له ايراني رژيم نه د دې وړتيا اخيستل دي چې نور خپل گاونډيان ونه گواښي او په منځني ختيځ کې ستونزې رامنځته نه کړي.

پومپيو ويلي چې د ايران د اومو تېلو څو محدود پاتې پېرونکي بايد په دې وپوهېږي چې هغوی په ټول منځني ختيځ کې د ايران له ناوړو هڅو سره چې ترهگري هم پکې راځي، مرسته کوي.

د يادونې ده چې دا بنديزونه د امريکا له دې ادعاوو سره همهاله لگېدلي چې وايي، تهران د دغه هېواد د ۲۰۲۰ زکال په ولسمشريزو ټاکنو کې د لاسوهنې هلې ځلې کوي، خو ايران بيا دغه بنديزونه بې اساسه بللي دي.

# سوله؛ لیدلوري او وړاندوینه

لیکوال: سوله مل افغان

سوله موږ ته حیاتي ارزښت لري. ۴۲ کاله د لویو زبرځواکونو تر تاړاک لاندې یو. سیمه ییز حریفان او بدخواهان هم له دې فرصته د خپلو تاریخي ماتو د انتقام اخیستو په فکر کې دي چې که زموږ هېواد اشغالولای نه شي، لږ تر لږه سل کاله مو (د دوی په وینا) له شره ځان وساتي.

شوروي او امریکا دلته د پښتنو د ماتولو لپاره راغلي وو. لومړي یو نیم او دویم یو میلیون پښتانه ووژل، خو غرور یې ورمات نه کړای شو. اوس د سولې لپاره یو فرصت راغلی دی، خو د هیلو تر څنګ شکونه، تشویشونه او وېرې هم ورسره دي. ۲۸ کاله مخکې د ډاکټر نجیب الله حکومت هم په ورته حالت کې و: شوروي پرېښې و، مرستې یې پرې بندې کړې وې. له ټولو ولایتونو د مجاهدینو له مخالفت او جګړې سره مخ و او په عین وخت کې ملګرو ملتونو د سولې طرحه پر مخ وړله.

له شوروي سره جهاد د پښتنو لپاره د خپل دین او هېواد دفاع او د هېواد واګې ببرته لاس کې اخیستل وو، خو د کاریزماتیک چریکي قوماندان احمدشاه مسعود او حوصله لرونکي مشر برهان الدین رباني په مشرۍ اسلامي جمیعت او نظار شورا په دې تکل کې وو چې تر سامانیانو وروسته د تاجکو په مشرۍ یو حکومت جوړ کړي؛ ځکه دوی تحلیل کړی و چې د هغه وخت په حکومت کې پښتانه روسانو ځپلي او ډاکتر نجیب الله له اردو او نظامي مشرۍ شړلي دي، خو برعکس تاجکو ته هم وسله، هم انګېزه او هم د روسانو او امریکایانو ملاتړ حاصل شوی دی. باید له دې فرصته د تاریخ د مسیر د بدلولو لپاره کار واخلي.

دا د افغانستان د هر قام حق دی چې د حکومت مشري وکړي، خو د ټاکنو په شان د یوې مشروع پروسې له لارې. دا عملي او عادلانه نه ده چې یو کوچنی قام دې هم په تاجکستان او هم افغانستان کې د یکه تازو او دکتاتورو حکومتونو مشري وکړي. د احمد شاه مسعود مطالعه او پیشبیني دا وه چې پښتانه جګړې او شوروي ناتار ځپلي دي،په خپلو کې هم څو ډلې دي، له اسلامي حکومته په کم شي نه راضي کېږي؛ پاکستان، ایران او نور ګاونډیان یې هم قوت نه شي زغملی او روسیه اوامریکا یې هم د قوت او غرور د ماتولو په هڅه کې دي. له همدې فرصت څخه په استفادې یې په دننه کې کلکه سازماندهي کړې وه، خپل جنګیالي یې په نظامي او فکري (عصبیت) ښه روزلي وو او له شوروي تر فرانسې، اسراییلو، انګلستان، هند او په پای کې د امریکا ملاتړ یې تر لاسه کړی و. ایران او تاجکستان خو یې هسې هم خپل عزیزان وو.

افغان ولس په همدې ډول چې نن سولې ته تږی او هیله من دی، په دغو ورځو کې هم و. ډاکتر نجیب الله چې پوه شو چې د خپلو مټو په پرې کولو یې احمدشاه مسعود او برهان الدین رباني ته د انحصاري واک زمینه برابره کړې ده، جرآت وکړ او د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندې یې یوې بې طرفه ادارې ته د واک ورکولو او شپږ میاشتې وروسته د شفافو ټاکنو له لارې د منتخب حکومت منلو ته غاړه کېښوده، خو له ځانه خبر نه و! ده چې پر تنې د کودتا پر مهال پاتې پښتانه له اردو شړلي وو، په دې فکر کې و چې ګوندې کولای شي د سولې دغه پروسه بریالۍ کړي، ملت پر یوه تڼر راټول کړي، خپله ماضي سپینه کړي او هېواد ته په دې وروستیو کې له جګړې نجات ورکړي. نوموړی دې ته متوجه نه و چې نظام د ده په لاس کې نه و او دی یوازې یو سمبول و: نبي عظیمي د دفاع وزارت مرستیال او د کابل ګارنیزیون قوماندان (په حقیقت کې د دفاع وزارت ټولواک)، آصف دلاور لوی درستیز، سید اعظم سعید د خاص ګارد قوماندان، جلال رزمنده د خاد د خاصو ځواکونو قوماندان، عبدالفتاح د هوایي او مدافع هوایي لوی قوماندان، عبدالرووف بېګي د ارګانونو د قواوو قوماندان، بابه جان د خاد د ملېشه ځواکونو قوماندان، دوستم د روسي پوځونو د ځای ناستي په توګه د مقتدرو ملېشو قوماندان، منصور نادري د اسمعیله ملېشو مشر او .... ټول د اقلیتو قامونو نظامیان همدې ته په تمه وو چې که د نجیب سمبولیک پوښ لرې کېږي، نو دوی به نظامي واک په لاس کې اخلي او په هېڅ صورت به نه پرېږدي چې داسې حکومت راشي چې ببرته پکې پښتانه د خپل نفوس په تناسب په ملکي او نظامي برخو کې راځرګند شي. بله بدمرغي دا وه چې پرچمي پښتانه جنرالان لکه نورالحق او عبدالحق علومیان، اکرم، منیر منګل، افضل لودین او نور هم د ببرک کارمل په قومانده د احمدشاه مسعود د واک لپاره د زمینه جوړوونکو په ډله کې وو. د ډاکتر نجیب الله له خوا د ملګرو ملتونو د سولې د پلان له منلو سره سم پرې خپلو همدغو ملګرو جنرالانو کودتا وکړه او د دوی په وینا، د یوه قوم د درې سوه کلن واک سلسله یې ختمه کړه. د مظلوم نجیب الله د واک په خاطر چې د پنځه سوه زره وسله وال ځواک اعلی سرقوماندان و، یوازې دوه تنه (جنرال غلام فاروق یعقوبي او جنرال عبدالباقي) قربان شول. نور ټول نظام یې د خپلو وفادارو جنرالانو له خوا وپاشل شو.

خو نظار شورا او اسلامي جمیعت د دغسې یکه تاز قومي حکومت په ساتلو بریالي نه شول، ځکه حکمتیار یې مقابله وکړه او دوی یې پر پول محمود خان، دهمزنګ، پل ارتن، هودخېلو او قلعه زمان خان ودرول او د ټول کابل او هېواد نیولو ته یې پرې نه ښودل. په دغه جګړه کې چې د ډاکتر نجیب الله خاینو جنرالانو د احمد شاه مسعود سره د بیعت په نامه پیل کړې وه، ټول کابل وران او په زرګونو کابلیان شهیدان شول، د سیمې په سطحه یوه پیاوړې اردو او نظام وپاشل شو، اقتصادي او اجتماعي سیستمونه ګډوډ شول او هېواد په داسې وخت کې یوې بدترې فاجعې ته ور وغورځېد چې ملت د سولې او امنیت لپاره شېبې شمېرلې او په بې صبرانه ډول یې د ارامۍ انتظار کاوه. پرچمي جنرالانو او د احمدشاه مسعود او عبدالرشید دوستم ملېشو د شر او فساد یو ژور حالت رامنځ ته کړ چې د ډاکتر نجیب الله د کور په کور جګړې او وینې بهېدلو پېشبیني یې رښتیا او ولس یې د طالبانو ښه راغلاست او منلو ته مجبور کړ.

د همدغه مجبوریت له امله د ولس له خوا د طالبانو د منلو په نتیجه کې طالبانو د شر او فساد کمپله ټوله کړه، خو له بده مرغه پر امریکا د ۹/ ۱۱ مرموزو بریدونو تور بیا پر دې مظلوم ملت او هېواد پورې او د ۴۸ ملکونو په ملګریتوب د امریکا لښکرې پر افغانستان راغلې. دا شل کاله کېږي چې ټوله نړۍ، د افغانستان درې عمده اقلیتونه او د پښتنو زیاتره باسوادان او ښاریان هم د امریکا ملګري او په کلیوالو پښتنو یې له ځمکې او هوا د اور او باروتو باران جوړ کړی چې تر اوسه دوام لري.

د سولې منځ ته راغلی اوسنی فرصت باید په هېڅ توګه ضایع نه شي او د ټولو افغانانو د خیر لپاره ترې اعظمي استفاده وشي. اوس بیا هم په ملي سطحه نظامي ځواکونه او په محلي سطحه د ۱۰ ولایتونو (د رسمي او غیر رسمي) ملکي او نظامي ځواک د جمیعت اسلامي او نظار شورا په واک کې دی. بامیان او دایکندي د حزب وحدت او فاریاب، جوزجان او سرپل د جنبش ملي په واک کې دي. په کابل کې بیا د نجیب الله (پښتون/ احمدزی) په شان هماغسې یو مشر ډاکتر اشرف غني (پښتون/ احمدزی) ناست دی او د افغانستان اسلامي جمهوریت د جمهور رییس تمثیل کوي. سره له دې چې هېڅکله په داسې حالاتو کې قومونه او ډلې وسله په خپله خوښه چا ته نه ورکوي او تر سولې او مذاکراتو دفاع او نظامي تقابل ته په مراتبو زیات تیاری کوي، خو لا هم هیلې شته. اوس د افغانستان د حالاتو په باب د څو احتمالي بدیلونو د پېښېدو چانس شته :

لومړی احتمال؛ که سوله وشي او منځګړی حکومت رامنځ ته شي چې اعتماد او باور جوړ کړي، ښکېلو ډلو ته متقابل اطمېنان ورکړي، یو له بل سره مشورو ته زمینه جوړه کړي، د ګډ سوله ییز ژوند اساسي لیکې او چوکاټونه جوړ کړي، اساسي قانون اصلاح، ملي وسله وال ځواکونه بې طرفه، مسلکي، عادلانه او غیر سیاسي کړي او شفافو، ټول شموله او عمومي ټاکنو ته لار هواره کړي.

دویم احتمال؛ اوسنی حالت دوام وکړي، پښتون وژنه همداسې روانه وي، سمبولیکه مشري د پښتون/ احمدزي او نظامي او اقتصادي واک په عمده ډول د تاجک جمیعت اسلامي او نورو اقلیتي قومي ګوندونو په لاس کې وي.

درېیم احتمال؛ خدای ناخواسته د ۱۹۹۲ ز کال پېښې تکرار شي. امریکا له افغانستانه په غیر مسوولانه ډول ووځي، طالبان نظامي پرمختګ وکړي او کابل بیا په اور کې وغورځېږي. په دې صورت کې به بیا هم درې اقلیت قامونه او د دوی نظامي ځواکونه خپلې سنګرې جوړې کړي، د جنګ شکل به ببرته په ښکاره ډول قومي شي، ولسمشر چې تر څو د اقلیت قامونو ملېشو ته مشروعیت ورکولی شو، وي به او که دغه مشروعیت یې نه شو ورکولی، یا به بهر ته لاړ شي او یا به قرباني شي. کورنۍ جګړه به د ولس پاتې وینې زوې هم وزبېښي.

دویم او درېیم احتمالونه هېڅ افغان ته ښه نه دي. نه د پښتون وژنه تر عمره زغمل کېدای شي او نه د نظام او تمدن چور او تالان، نو ځکه لومړی بدیل تر ټولو غوره دی.

معمولاً زبرځواکونه په غریبو ملکونو کې د خپلو ګټو د تامین لپاره مختلف بدیلونه لري او ساتي. که د دوی د فکر پلوي حکومتونو دوام کاوه، هماغه حمایه کوي، که دغه ډول حکومت دوام نه شو کولی له خپل پخواني مخالف سره هم سازش کوي او پخوانی همفکران د نوي متحد رحم ته پرېږدي. له ډاکتر نجیب الله سره روسانو همداسې وکړل. کله چې برهان الدین رباني روسانو ته وویل چې موږ ستاسو له ملت سره دښمني نه لرو. روسان په بېړه له نجیب الله څخه لاس په سر کېدو او له برهان الدین رباني سره اتحاد ته حاضر شول. امریکا هم استثناء نه ده، خپلې ملي ګټې ورته د اشخاصو او شعارونو په پرتله په مراتبو مهمې دي. که ډاډه شي چې طالبان یې ملي ګټې نه ګواښي، هماغسې تصمیم نیولی شي لکه روسیې چې ونیو او ډاکتر نجیب الله او حزب دموکراتیک خلق یې په احمدشاه مسعود او جمعیت اسلامي بدل کړ.

لومړی بدیل د ټول ملت غوښتنه ده، دویم بدیل خو بې له دې هم روان دی، خو د درېیم بدیل د نه پېښېدو لپاره اوس دوه فرصتونه شته:

لومړی- د ډاکتر غني موجودیت: که ولسمشر غني یو بې طرفه رول ولوبوي او جمیعت او طالب دواړو ته ثبوت کړي چې د سولې داسې لار هواروي چې دواړو ته پکې عزت وي او د دې کار د سم مدیریت جرئت او وړتیا ونښيي؛ امریکا او ناټو هم قانع کړي، کېدای شي، لومړی بدیل بریالی او ځان د سولې او ملي یووالي اتل کړي، خو تر هغې دې استعفا نه کوي چې دواړه غاړې سولې ته حاضرې شي او یوه توافق ته ورسېږي؛ ځکه د مشروعیت له ختم سره اتومات جګړه تشدیدېږي. البته که توافق کېږي، نو بیا د یو شخص د واک غځېدل د یوې شېبې لپاره هم ضرور نه دی او باید واک داسې چا ته پرېږدي چې ټول پرې سلا شوي وي. (خو اوس داسې شکونه دي چې پخپله ډاکتر اشرف غني تر اقلیتي ـ قومي قوتونو هم زیات د جنګ پر منطق تاکید کوي).

دویم- له روسانو سره د امریکا توپیر: داسې فکر کېږي چې له مجاهدینو سره د ډاکتر نجیب الله په مشرۍ د ځواکمن او په درنو وسلو سمبال رژیم د سولې په باب دواړه زبرځواکونه موافق نه وو او دغسې یو وسله وال او متحد افغانستان یې نړۍ یا لږ تر لږه سیمې ته ګواښ ګاڼه، نو ځکه دواړو زبرځواکونو په ګډه د دغه نظام چور ته زمینه جوړه کړه. اوس داسې ښکاري چې امریکا نه غواړي د افغانستان نظام چور شي او له دې ځایه یې ببخي اړیکې پرې شي. البته امریکا غواړي له پښتنو دوه تضمینونه واخلي: لومړی د اقلیت قامونو د حقوقو په باب چې په معقول حد کې دا ښه کار او د افغانستان د ملي ګټو او ثبات په ګټه دی او دویم د پاکستان لپاره چې افغانان به ترې خپله خاوره په زور نه نیسي. البته دا د امریکا مکلفیت نه دی، خو دا چې پاکستان یې په سیمه کې د اوږدمهاله پروژو تطبیقوونکی دی، دغسې هڅه کوي. که افغانان وکړای شي، امریکا قانع کړي چې له دغه شرطه تېره شي، د افغانانو په ګټه به وي. له بلې خوا امریکا له چین سره د افغانستان او سیمې له اتحاده وېره لري او غواړي افغانستان، پاکستان او د منځنۍ اسیا هېوادونه غریب او کمزوري وي چې نورو ته اړ وي او د سیمې د رفاه او اتحاد لویې پروژې عملي نه شي. له بلې خوا په روسیه کې د پوټین له قوت او د چین له اقتصادي ودې په وېره کې ده، نو ممکن له پښتنو سره خپله دښمني پرېږدي چې دوی له روس او چین سره اتحاد ته مجبور نه شي. د دې لپاره ورته افغان سوله ضروري ده او امریکا به دې پروسې ته دوام ورکړي. هغه احتمال کمزوری ښکاري چې امریکا یوازې د ډونالډ ټرمپ د ټاکنو لپاره د یو شعار پیدا کولو په خاطر سوله عنوانوي. خبره تر دې لویه ښکاري؛ ځکه له طالبانو سره سوله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او لسګونو هېوادونو تایید کړې او ظاهراً سیمه ییزه اجماع یې هم ګټلې ده.

افغانانو هم باید له تېرو ترخو تجربو زده کړه کړې وي چې په یوازې ځان هېڅ لوری واک نه شي چلولی. ګاونډیان او ذیدخله هېوادونه مهم خو نظرونه یې متنوع دي:

پاکستان فکر کوي چې د نظامي مخالفینو تر منځ سوله ممکنه نه وي او په دغسې حالاتو کې سوله هله راځي چې یو لوری پر بل بریالی شي. پاکستان د ډیورنډ په فرضي کرښه خپلو مسوولینو ته هدایت ورکړی چې د کتلوي مهاجرت سېلاب ته تیار و اوسي او د مشرانو او مهمو خلکو د عزت خیال وساتي. پاکستان غواړي چې په افغانستان کې یو هند ضد رژیم واکمن وي او د دې کار توقع له طالبانو کوي؛ ځکه په تېرو ۲۸ کلونو کې هند د افغانستان له اقلیتونو دفاع کړې او کوي یې. په اوږدمهال کې پاکستان د افغانستان، پاکستان او د افغانستان د شمالي مسلمانو هېوادونو پر ټوله جغرافیه د تبارز او اغېز نیت لري چې د هند معادل شي او مقابلې ته یې ځان چمتو کړای شي.

هند فکر کوي چې که امریکا د کابل دولت او طالبانو تر منځ بې طرفه شوه، توازن د طالبانو په ګټه بدلون مومي. طالبان چې له هند سره اړیکې نه لري، هند یې د پاکستان متحدین بولي. په مقابل کې هند ځکه له اقلیت قامونو د نظامي ـ سیاسي ډلو سره د ملېشه سازۍ پروسه پیل کړې ده. هند په لویه کې په دې سیمه کې د یو مقتدر اسلامي هېواد یا د سیمې د اسلامي (خصوصاً سني) هېوادونو تر منځ اتحاد او یووالی نه غواړي.

ایران غواړي چې په افغانستان کې د نظام قوت د اقلیتونو په ملګریتوب کې له تاجک او سمبولیکه مشري له پښتون سره وي. په عادلانه سوله کې دغه رول نه ساتل کېږي، نو که سوله د خپلو افغاني متحدینو په ګټه ځنډولی یا تخریبولی شي، مخ ترې نه اړوي.

روسیه هم د اقلیتونو، ایران او هند ملګرې ده او که توازن د پښتنو په ګټه تغییر کوي، په مقابل کې به یې نیت پر اقلیتونو وي. د روسیې پخوانی سیاست دا و چې له ټولې نړۍ او خپلو سترو دښمنانو سره سوله کوي، خو له پښتنو سره نه. دوی دا برداشت کوي چې پښتنو د دوی د امپراتورۍ او زبرځواکۍ د نړولو زمینه جوړه کړې او د دوی غرور یې مات کړی، خو اوس داسې ښکاري چې روسیه تر یوه مهاله د نړۍ نیولو له فکره تېره شوې او له پښتنو سره د اړیکو د عادي کولو په فکر کې ده.

چین په سیمه کې د تفوق غوښتو او نوو لارو او بازارونو میندلو په لټه کې دی او احتمالاً سوله ییز افغانستان به ورته په ګټه وي.


افغانستان د کوم هژموني قوت جوړېدو اجنډا نه لري، نه د اسلامي خلافت مشري دوی ته ثوک پرېږدي، نه د سیمې مشري. افغانان یوازې غواړي هېواد یې ازاد او ولس یې محفوظ وي. که ډېر پیاوړي هم شي، د خپلو طبیعي او سیاسي حدود د یو کولو لارې به ولټوي چې هغه په سوله ییزو لارو هم کېدای شي. اوس چې د افغانستان خلک په عام ډول او پښتون قام په خاص ډول په اور کې ولاړ دی، ورته پکار ده چې لومړی خپلو کې سوله وکړي، قومي او سیمه ییزې لانجې حل کړي، بیا سیمې سره د متقابل درناوي او متقابلو ګټو پر بنسټ اړیکي جوړې کړي او بیا له نړۍ سره متوازنې او مثمرې اړیکې ولري. زموږ عنعنوي بهرنی سیاست تل مثبته بې طرفي وه، خو تر روسیې لږ د غرب خوا ته میلان و. اوس هم د ګاونډیانو او سیمې د ټولو هېوادونو سره د ښو اړیکو له ساتلو سره سره له چین، روسیې، امریکا او غرب سره لږ نږدېوالی ګټور دی، ځکه غرب زموږ څخه لرې دی او جغرافیه مو له ځان سره نه شي وړای، خو په عین حال کې باید هند، چین، روسیې، ایران، نورو ګاونډیانو ته ډاډ ورکړل شي چې د افغانستان خاوره به د یوه د بل په خلاف نه کارول کېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

- لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
- ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د استخباراتو تصادفي مشر




اوس عثمان له خپلې مېرمنې او دوو لوڼو سره مرسته کړې چې د جرمني د نفوسو کموالی ورو کړي.

دولت: کله چې عثمان بلاخره له ممبیي څخه لاړ، جنرال ټلیفون وکړ او راته ویې ویل: پر واهیگورو ستا باور له عثمان سره مرسته وکړه.

جیون ته مې ټلیفون وکړ او ډېره مننه مې ترې وکړه. وروسته مې درک کړه چې باید په RAW کې له خپل پخواني همکار څخه هم مننه وکړم، نو مې هغه ته هم زنګ ووهلو. هغه وویل:« نه ښاغلیه.» خو د هغه په غبرګون کې تر ټولو غوره برخه د جنرال صېب یادونه وه.

ده وویل:« دا زموږ مسئولیت دی. هغه بلاخره زموږ همکار دی.»

دوراني: زه دې څرګندونو ته ډېر ارزښت ورکوم او هیله لرم چې فرصت به پیدا کړم چې په شخصي توګه له دې ښاغلي مننه وکړم.

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک

په دې څلورو څپرکو کې دولت او دوراني د جاسوسۍ د مسلک په اړه بحث کوي. موږ په مستقیم ډول د ISI پر نظریې بحث کوو او له RAW سره یې پرتله کوو. دوی دغه راز نورې استخباراتي ادارې په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو، روسیې او جرمني استخبارات ارزوي. دوی وروسته د استخباراتي ادارو د مشرانو ترمنځ په مذاکراتو غږېږي، د پاکستان او هند ترمنځ د استخباراتو په کچه د اړیکو د یوه چینل رامنځته کولو پر اړتیا او د یو بل په پلازمېنو کې د یوه پوست د ځانګړې غوښتې په تړاو خبرې کوي.

د صحنې برابرول

استانبول، د (۲۰۱٦. ز) کال د مې (۲٦)مه نېټه، له ښه کار یوه ورځ وروسته موږ د دولت په خونه کې د ماښام د خوشاله ساعتونو لپاره سره یو ځای شوي یوو. له دې کبله چې ټایپ ریکارډر مړ دی، یو څو تنه نور د استخباراتي ادارو تقاعد شوي مشران هم خونې ته راځي. دوی بې پردې خبرې کوي او ټوکې پیلېږي. اوس دا ښایي څرګنده شوې وي چې جاسوسان ځان ته اجازه ورکوي چې په صمیمي فضا کې تر یوه بریده شوخې ټوکې وکړي.

**۴**

### د پاکستان تصمیم نیوونکې اداره

سېنها: خلک وایي چې I.S.I د پاکستان تصمیم نیوونکې اداره ده.

دوراني: زیاتره څارګرو ادارو ته تصمیم نیوونکې ادارې (Deep State) ویل کېږي - CIA، KGB. دا اصطلاح هغو جوړښتونو ته کارول کېږي چې د پردې تر شا د دولت سیاستونه او چارې پر مخ بیایي. دغه ځانګړې اصطلاح په ډاګه کوي چې یاد جوړښتونه پټ، خو اغېز ښندونکي دي. زما په قاموس کې دا د یوې رواني جګړې اصطلاح ده. دا په عین وخت کې دوه متضادې ماناوې لېږدوي. د امریکا متحده ایالات ځان ته یو تصمیم نیوونکی بنسټ لري چې پرېمانه پیسې، پوځي صنعتي کمپلېکس او یهودي لابي پکې شامل دي. تصمیم نیوونکې ادارې په امریکا کې ان کولای شي چې د ولسمشرانو پالیسۍ تر سیوري لاندې راولي، لکه په افغانستان او منځني ختیځ کې چې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د اوباما هڅې له خنډ سره مخ شوې.CIA، د بهرنیو چارو وزارت، پنټاګون او پوځي صنعتي کمپلېکس سیاسي مشرتابه ته خنډونه جوړوي. دا خبره یوازې موږ نه کوو، بلکې د CIA د پخوانیو مشرانو په ګډون ګڼ شمېر امریکایان هم پر دې اعتراف کوي. د ادارو تر منځ همغږي نه شته، څه چې لازم ګڼو، هغه کوو. تصمیم نیوونکې بنسټونه د ولسمشر ډونالډ ټرمپ پر وړاندې هم خنډونه جوړوي، هغه یې له روسیې سره د اړیکو له سمولو منعه کړ او همدارنګه د هغو ژمنو پوره کولو ته یې نه پرېږدي چې د ټاکنیز کمپاین پر مهال یې په بهرنیو هېوادونو کې د امریکا د پوځي ښکېلتیا د کمولو په اړه کړې وې.

سېنها: ایا د پاکستان تصمیم نیوونکو اسامه بن لادن پټ ساتلی نه و؟

دوراني: ما په ټلوېزیونونو کې خپل تحلیل کړی، چې ایا هغه پټ ساتل شوی و او که نه، او که یا هم موږ پرې خبر وو او د دې کار تر شا غټ لاسونه وو.ISI تر یوه بریده خبره وه او د یوې دوه اړخیزې هوکړې له مخې یې اسامه امریکا ته سپارلی و. ښایي موږ امریکایانو ته ویلي وي چې سړی در واخلئ او موږ به داسې وښیو چې ګنې ناخبره یو. په دې پېښه کې د پاکستان د ښکېلتیا افشا کول کېدای شوای چې د سیاسي کشمکش سبب شوی وای. له امریکا سره د یوه داسې چا په له منځه وړلو کې همکاري کول چې ګڼ شمېر پاکستانیانو ته د اتل حیثیت لري، حکومت ته یو لوی سرخوړی جوړېدای شوای.


دولت: زموږ تحلیل هم همداسې دی، چې نوموړی د پاکستان له لوري امریکا ته سپارل شوی و.

دوراني: دا زموږ لپاره خورا ناراحته کوونکې خبره وه.

دوام لري...

# د جغرافيې بنديان

اکسوس کتابپلورنځی




د جغرافيې بنديـان کتـاب د نړيـوال سياسـت پـه برخـه کـې د هېوادونـو ترمنـځ د ارضي سـتونزو پـه اړه بحـث کـوي. د کتـاب ليکـوال برېټانـوی ژورناليسـت ټېـم مارشـال دی چـې يـاد کتـاب يـې پـه ۲۰۱۵ز کال کـې ليکلـی و او تـازه پښـتو ژبـې تـه عدنـان نجيبـي ژباړلـی او اکسـوس، چـاپ او بـازار تـه وړانـدې کـړی دی. دغـه کتـاب ټـول ۲۹۴ مخونـه لـري او پـه لسـو څپرکـو کـې تنظيـم شـوی دی.

پـه ټولـه کـې ليکـوال هڅـه کـړې چـې دغـه پوښـتنو تـه ځـواب ومومـي؛ امريـکا ولـې لـوی قـدرت او ثـروت پيـدا کـړ؟، ايـا د امريـکا سـقوط حتمـي دی؟، د هنـد او پاکسـتان ترمنـځ د شخړو لامـل څـه دی؟، ولـې پاکسـتان افغانسـتان ارام نـه پرېـږدي؟، ولـې اروپـا پرمختللـې خـو متحـده کېـدای نـشي؟، د کوريـاوو مسـئله څـه ده؟، جاپـان څنګـه وتوانېـد چـې د اسـيا اکثريـت جزيـرې خپلـې کـړي؟، چيـن څـه غـواړي؟، شـتمنه افريقـا ولـې نېسـتمنه ده؟، پـه خليـج کـې روسـيه څـه غـواړي؟، ايـا د نـړۍ نقشـه بيـا بدلـون مومـي؟، او د منځنـي ختيـځ او ايـران معضلـه څـه ده؟، څـوک لـه چـا څـه غـواړي؟ دا کتـاب همدغـه موضوعـات تـه پـه تحقيـق او تحليـل سره ځـواب وايـي.

د کتـاب پـه لومـړي څپرکـي کـې پـر روسـيې، پـه دويـم څپرکـي کـې پـر چيـن، پـه درېيـم څپرکـي کـې پـر امريـکا، پـه څلـورم څپرکـي کـې پـر لوېديځـې اروپـا، پـه پنځـم څپرکـي کـې پـر افريقـا، پـه شـپږم څپرکـي کـې پـر منځنـي ختيـځ، پـه اووم څپرکـي کـې پـر هنـد، پاکسـتان او افغانسـتان، پـه اتـم څپرکـي کـې پـر کوريـا او جاپـان، پـه نهـم څپرکـي کـې پـه لاتينـه امريـکا او پـه لسـم څپرکـي کـې پـر شـمالي قطـب مفصـل بحـث شـوی دی. دغـه راز پـه دې کتـاب کـې پـر دې بحـث کېـږي چـې امريـکا ولـې قـدرت او ثـروت پيـدا کـړ او څـه ډول پـر نړيـوال زبرځـواک بدلـه شـوه. ترڅنـګ يـې دې تـه هـم اشـاره شـوې چـې ايـا د اوسـنۍ امريـکا سـقوط هـم حتمـي دی او دا سـقوط بـه څـه ډول وي. د هنـد او پاکسـتان پـر شـخړو، پـه افغانسـتان کـې د پاکسـتان پـر لاسـوهنو، د کوريـاوو پـر مسـايلو، جاپـان، چيـن، افريقـا، خليـج او پـه خليـج کـې د روسـيې پـر رول او دغـه راز پـه منځنـي ختيـځ کـې د ايـران پـر رول مفصلـې خـبرې شـوې دي.

مينـه وال يـاد کتـاب پـه کابـل کـې پـر اکسـوس کتابپلورنځـي سربېـره لـه نـورو لويـو کتابپلورنځيـو هـم ترلاسـه کولـی شي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | اسانه لمونځ او څلوېښت مسنونې دعاوې | محمدعاشق الهي/عبدالله ګل ریان | ۵۰؋ |
| ۲ | د ښه ژوند کولو هنر | نصیر احمد کمال | ۸۰؋ |
| ۳ | روغتیا او ښکلا | عبدالولي اعتماد | ۱۰۰؋ |
| ٤ | اجتهاد او تقلید | محمد محمدي کندهاري | ۱۸۰؋ |
| ۵ | زموږ غښتلي | عبدالقیوم معلم | ۱۵۰؋ |
| ٦ | پټه خزانه | عبدالحي حبیبي | ۱۰۰؋ |
| ۷ | جنسي ارواپوهنه | ډیوېډ ام باس/نجیب احمد عزیزي | ۲۸۰؋ |
| ۸ | ستراتیژیک مدیریت | فرید آر ډیوېډ/میراحمد یاد | ۳۷۰؋ |
| ۹ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲۵۰؋ |
| ۱۰ | فکري نوښت | قدیرالله تسل | ۱۰۰؋ |
| ۱۱ | ټولنیزې وړتیاوې | توني باز/جاني خېل سیال | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | ټولنیز نزاکتونه | ذاکر نایاب | ۱۵۰؋ |
| ۱۳ | د نوې سیاست پوهنې بنسټونه | حسین بشیریه/ګل الرحمن رحماني | ۲۸۰؋ |
| ۱٤ | د نه ویلو هنر | دیمون زاهار یادس/تاج موسسه | ۱۳۰؋ |
| ۱۵ | د ژوند ۱۳ رازونه چې باید زده یې کړئ | لېوېنکسټون/حمیدالله حمیدي | ۱۰۰؋ |
| ۱٦ | د ځان هڅولو سل لارې | سټیو چاندلر/خوشحال وارث | ۲۲۰؋ |
| ۱۷ | بازار موندنه | برایان ټرېسي/امین جلالزی | ۷۰؋ |
| ۱۸ | د مدیریت هنر | عطا محمد میاخېل | ۱۳۰؋ |
| ۱۹ | مه وېرېږئ پیل یې کړئ | ریچارد برانسون/صفی الله پادشاه | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | د سهار وختې پاڅېدو اغېز | هال الرود/امان الله حنیفي | ۱۷۰؋ |
| ۲۱ | د قدرت ۴۸ قوانین | رابرت ګرین/وصیل پیروز | ۱۲۰؋ |
| ۲۲ | د ژوند لوبه | فلورانس اسکاول شین/لعل الدین عاطف | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | هیلې مو پر رښتیا بدلې کړئ | جان مکسویل/امان الله حنیفي | ۲۲۰؋ |
| ۲٤ | له موجه تر اوجه | مسعود لعلي | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | شین سهار | رابېن شرما/محمد نواب خوښ | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | اتومي عادتونه | جیمز کلیر/اسماعیل آشنا | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | بې واکه صورتونه | اجمل ښکلی | ۲۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۸۰ |
| € | ۹۰،۲۰ |
| Rp. | ۴۷۶ |
| ₹ | ۱۰۴۵ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۹،۲۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# د دوحې د سولې مذاکرات او د مرکچي پلاوي تاریخي مسوولیت

لیکنه: ضیاالحق فضلي

په افغانستان کې د کلونو جگړې او تاوتریخوالي وروسته د افغان ولس هغې غوښتنې ته لبیک وویل شو چې ټولو یې بې صبرانه انتظار درلود او هیله یې دا وه چې دغسې ورځ په خپل ژوند کې ووینې.

له نېکه مرغه د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې، سیمې هېوادونو، طالبانو او سیاسیونو په هلو ځلو د جگړې د ښکېلو اړخونو تر منځ د سولې د ټینگښت په اړه د مخامخ خبرو اترو زمینه برابره شوه او دواړو ډلو دې ته چمتووالی وښود چې د روان ناورین د پای ته رسولو لپاره د مذاکرې مېز ته کېني.

د افغان سولې لپاره په تېرو کلونو کې ډېرې هلې ځلې وشوې او مختلفو اړخونو پکې گډون درلود، خو پایلې یې تر ډېره محسوسې نه وې. دا ځل د سولې روانو خبرو ته د ولس هیلې او تمې ډېرې دي؛ ټول یې تاریخي اقدام گڼي او ډاډه دي چې د جگړې له منحوسې بلا به یې ژغوري.

په قطر کې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې مخامخ خبرې پرته له شکه چې تاریخي دي؛ ځکه د نړیوالې ټولنې او د سیمې د هېوادونو بشپړ ملاتړ ورسره دی او د تېر په پرتله یوه ښه کورنۍ او بهرنۍ اجماع رامنځته شوې ده. له دغو خبرو دا ځل د ولس تمې ډېرې لوړې دي او نړیوال هم د یوې مثبتې پایلې د ثرک لارې ثاري.

جگړې په تېر کې او اوس هره ورځ د لسگونو هېوادوالو نه قرباني اخیستې او اخلي یې، ټول د چټکې پایلې غوښتونکي دي، تر څو جگړه ودرېږي.

د خلکو د غوښتنې منطق هم ډېر پر ځای دی؛ ځکه څومره ژر چې د سولې د خبرو پایلې معلومېږي، په هماغه کچه د افغان وژنې، وطن ورانېدو او وینې توییدو مخنیوی کېږي.

په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو له لوري مذاکراتي مرکچیان د لوړ باور پر اساس ټاکل شوي او تاریخي مسوولیت ور ترغاړې دی، دا د دوی درایت او پوهې پورې اړه لري چې خپل مسوولیتونه په څه ډول او په څومره موده کې ترسره کوي او ولس ته مثبته نتیجه په لاس ورکوي. پرته له شکه چې د افغانانو سرنوشت اوس د دواړو ډلو د مذاکراتي پلاوي په لاس کې دی، دوی که غواړي له ولس او هېواد سره ښه وکړي، خپل انساني او ملي مسوولیت باید په دقیقه توگه ترسره کړي.

دغه مذاکرات د ماهیت، ارزښت او تاریخي پلوه خورا مهم دي، له مخکې مو چې وویل د مرکچیانو مسوولیتونه هم درانه دي. په اوسني وخت کې د تاوتریخوالي کمول، د اوربند تامین، په ولسي خلکو او امنیتي ځواکونو د بریدونو درول، د یو بل زغمل او په تېرو بحث نه کول هغه مسایل دي، چې د دواړو خواوو اساسي مسوولیتونه گڼل کېږي او د ترسراوي لپاره یې باید هر اړخیزې هلې ځلې وکړي، تر څو د مذاکراتي تاریخي حیثیت وساتل شي.

د تېرو کلونو لاسته راوړنې نه یوازې افغان حکومت، بلکې طالبانو ته هم مهمې دي، ځکه که دوی حکومت ته راگډېږي، له همدې امکاناتو او فرصتونو به په مساوي ډول برخمن کېږي. د دواړو اړخونو ټینگار باید د تېرو لاسته راوړنو ساتنه وي. په دې لاسته راوړنو کې ملي پوځ، استخبارات، ملي پولیس، عامه تاسیسات، دولتي ادارې او نور شامل دي، چې د نوي حکومت او نظام په چلولو کې به ټولو سره مساوي مرسته کوي.

د مذاکراتو په جریان کې اختلافي موارد و له منځه وړل، د کینې ختمول، یو بل ته د ماتې او بریا پېغورونه نه ورکول، تورونه لگول او عمومي ښېښه هغه مسوولیتونه دي چې په راتلونکي حکومت کې به د دواړو خواوو سیاسي مشارکت په ښه توگه تمثیل کړي.

موږ هیله من یو، چې حکومت او طالبان د خپل تاریخي مسوولیت په ترسره کولو کې په پوره تدبیر ببړه وکړي او له شته فرصته عظیمه گټه پورته کړي. ژر نتیجې ته رسېدل او د یو بل پر خبرو قناعت به هغه څه وي چې د دغو خبرو په مثبته پایله کې به اساسي نقش ولري. دواړې خواوې باید تر وروستي حده هڅه وکړي چې دغه رامنځته شوی فرصت ضایع نه شي، ولس او هېواد یو ځل بیا د بربادۍ لور ته سوق نه شي. مهمه ده، چې مذاکرات د پوره صمیمیت، ورورولۍ او یو بل زغملو په فضا کې ترسره شي. له داسې خبرو باید ډډه وشي چې مذاکراتو ته زیان رسوي او د دښمن هدف د سولې د خبرو ویجاړل ممکن کړي.

همدا اوس مغرض سیاسون، ځینې هېوادونه، استخباراتي کړۍ او د سولې نور مخالفین هڅه کوي چې په یو ډول نه یو ډول دغه خبرې تخریب کړي او خپلې ناوړې موخې ترلاسه کړي. مرکچي پلاوي باید دغو حساسیتونو او دسیسو ته په کتو خپل تاریخي مسوولیت په افغانۍ او اسلامي احساس ترسره کړي.

## یوناما: په تېرو نهو میاشتو کې نږدې شپږو زرو ملکي افغانانو ته مرگ ژوبله اوښتې

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندویه پلاوي یا یوناما د ملکي تلفاتو په اړه په راپور کې وایي چې په دوحې کې د سولې خبرو د پیلېدو راهیسې په دغه هېواد کې د ملکي وگړو تلفات نه دي کم شوي او لا هم دغه وژنه ټکان ورکوونکې ده.

د یادې ادارې په وروستي راپور کې چې پرون خپور شوی، راغلي چې د روان کال له جنورۍ میاشتې څخه بیا د سپټمبر میاشتې تر پایه پورې ۵۹۳۹ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې چې په وینا یې، ۲۱۱۷ تنه وژل شوي او ۳۸۲۲ نور ټپیان ثبت شوي دي.

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو سیاسي استازولۍ ویلي چې د تېر کال همدې مودې ته په کتو، په ملکي تلفاتو کې ۳۰ سلنه کموالی هم راغلی دی. راپور ښیي چې د یادو تلفاتو ۴۵ سلنه طالبانو، ۲۳ سلنه د افغانستان امنیتي ځواکونو، ۲ سلنه نړیوالو ځواکونو او پاتې برخه یې داعش او نورو نا ځرگندو وسله والو پورې اړولې دي.



په دغه راپور کې ویل شوي چې د تېر کال همدې مودې ته په کتو، د طالبانو لخوا په ملکي مرگ ژوبله کې شپږ سلنه زیاته شوې ده. یوناما زیاتوي چې د روان کال په تېرو نهو میاشتو کې ۱۲۸۷ تنه د وسله والو مخالفینو لخوا وژل شوي او ۲۱۷۲ تنه نور ټپیان شوي دي.

د سرچینې په خبره، په یاده موده کې ۶۰۵ تنه د دولت پلوه ځواکونو لخوا وژل شوي او ۱۶۴۳ نور ملکیان ټپیان شوي دي. د یوناما راپور وایي: «د تېر سپټمبر له ۱۲ مې نېټې چې په قطر کې د افغانستان دولت او طالبانو تر منځ بین الافغاني خبرې پیل شوې، د سپټمبر تر ۳۰ پورې د ۲۰۲۰ ز کال د پخوانیو اونیو په پرتله په خبرو کې د ښکېلو اړخونو لخوا د ثبت شویو ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالی نه دی راغلی.» یوناما وایي چې په ننبتو کې ښځې او ماشومان هم وژل شوي او د جگړې په اړه له ښکېلو خواوو غواړي چې د ملکیانو په .خوندي کېدو کې بېړني گامونه واخلي

یوناما زیاته کړې چې افغانستان لا هم د ملکیانو لپاره د نړۍ په کچه یو له تر ټولو مرگونو هېوادونو څخه دی. په افغانستان کې د ملگرو ملتونو سیاسي استازولۍ په راپور کې راغلي چې د روانې اکتوبر میاشتې له پیل څخه بیا تر دې مهاله په افغانستان کې ۴۰۰ تنو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. یوناما ویلي چې د اکتوبر میاشتې د ملکي تلفاتو ارقام یې په دغه راپور کې نه دي یو ځای کړي.


دا په داسې حال کې ده چې نږدې دوې میاشتې مخکې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغانستان دولت او طالبانو تر منځ بین الافغاني خبرې پیل شوې چې لا هم د دواړو لورو ډلو د مخامخ خبرو پیلېدو لپاره اختلافي مسایلو پر هواري روغې جوړه نه ده شوې.

## سولې وزارت: یوازې د اوربند په صورت کې د سولې خبرې یوې پایلې ته رسېدلی شي

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ټینگار کوي چې په قطر کې روانې خبرې هغه وخت پایله درلودلی شي چې لومړی طالبان له جگړو لاس واخلي او بشردوستانه اوربند ته غاړه کېږدي.

د سولې په چارو کې د دولت وزیر سید سعادت منصور نادري په کابل کې د امریکا متحده ایالتونو د سفارت له شارژدافیر راس وېلسن سره په کتنه کې هم په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي پر لوړه سطحه بحث کړی دی.

دغه وزارت وایي د نادري او وېلسن په کتنه کې ویل شوي چې په هېواد کې د تاوتریخوالي لوړه کچه د منلو وړ نه ده او د افغانستان د سولې پر مذاکرو اغېز کولای شي. د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې ناجیې انوري هم ویلی چې روان تاوتریخوالي عام افغانان ډېر زیانمن کړي دي.



انوري زیاته کړې: «د تاوتریخوالي دوام تر ټولو زیات د افغانستان خلک خواشیني کوي او دوی له مشکل سره مخامخ کوي. اوربند او د تاوتریخوالي درېدل د افغانستان د خلکو غوښتنه ده چې تل د اسلامي جمهوریت لهخوا مطرح شوې او پر انساني اوربند ډېر ټینگار شوی دی. تمه ده چې طالبان د خلکو دغې غوښتنې ته احترام وکړي او دا اوسنۍ جگړه ودرول شي، د دواړو خواوو تمرکز پر مذاکرو او یوې ښې پایلې ته د رسېدو پر خوا وي.»

په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ازادي راډیو ته ویلي، د دوی حملې د عکس‌العمل بڼه لري او په خبره یې، په اصل کې د دولتي ځواکونو بمبارۍ، چاپې او تهاجمي بریدونه زیات شوي دي.

تر دې مخکې ځینو نورو نړیوالو سازمانونو او هېوادونو هم په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر لوړې کچې نیوکې کړې او له طالبانو یې غوښتنه کړې چې خپل بریدونه بند کړي.

د یادونې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د سپټمبر له ۱۲مې د طالبانو او د دولت مذاکره کوونکي په خبرو بوخت دي، خو نه یوازې ورسره په افغانستان کې روانه جگړه دردېدلې نه ده، بلکې د اصلي مذاکرو پر اجنډا او کړنلار لا هم کومه هوکړه نه ده شوې.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لړم اوومه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۸مه |۶۱۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲٤ | ۲۷ | ۲٥ | ۳۱ | ۲٤ |
| ٦ | ۷ | ۱۲ | ۱۲ | ۱٦ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۴۶ | لمر ختل ۰۶:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۴۱ | ماښام ۰۵:۰۶ | ماخوستن ۰۶:۳۰

## نړۍ




### د روغتیا نړیوال سازمان:
## ښايي کرونا ویروس پر یوې دایمې ناروغۍ بدل شي



په داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې په زیاتېدو دي، د روغتیا نړیوال سازمان مشر د دې وبا د دوامداره کېدو په اړه خبرداری ورکړی.
د یاد سازمان مشر تدروس ادهانوم ګبریاسوس په ژنیو کې خبریالانو ته ویلي چې د ځمکې د شمالي نیم کرې په ډېرو هېوادونو کې د کووېډ-۱۹ ناروغۍ له کبله په روغتونونو کې د خلکو د بستر کېدو پېښې زیاتې شوې دي. هغه زیاته کړه چې د جدي مراقبت ځانګې، په تېره د اروپا او شمالي امریکا په ګڼون په ځینو ځایونو کې نوي ناروغان نه‌شي منلی، ځکه ځای نه ورته لري.
دا په داسې حال ده چې د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴۳ میلیونه او ۹۴۱ زره او ۴۷۹ ته رسېدلي دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۱٦٦ زره او ۷۱۵ کسان مړه شوي او له ۳۲ میلیونو ډېر تري ببرته رغېدلي دي.
د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۹٦۹ زره او ۹۸۰ ته رسېدلي او ۲۳۱ زره او ۲۱۳ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

### سعودي عربستان: راتلونکي اونۍ بهرنیان هم
## د عمرې ادا کولو لپاره راتلی شي

د سعودي حکومت اعلان کړی چې له راتلونکې اونۍ څخه بهرنیان هم کولی شي چې په ځانګړو شرایطو سره په دغه هېواد کې د عمرې مراسم ادا کړي.
د سعودي د حج او عمرې وزارت په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویلي چې تر کرونا وروسته دوی د عمرې ادا کول پیل کړي او په لومړیو دوو پړاوونو کې یوازې سعودي مېشتو خلکو ته د دغو مراسمو د ادا کولو اجازه ورکړل شوې ده. سرچیني زیاته کړې چې د راتلونکې اونۍ له یکشنبې ورځې څخه له بهرنیو هېوادونو څخه هم خلک د عمرې د ادا کولو لپاره راتللی شي.
د سرچینې په خبره، عمره کوونکي به سعودي ته له رسېدو سره سم درې ورځې په کرنتین کې تېروي او ټولې هغه لارښوونې به عملي کوي چې د سعودي د روغتیا وزارت د کرونا د مخنیوي لپاره اعلان کړې دي. د سعودي د حج او عمرې وزارت ویلي چې د عمرې ټول شرکتونه او اداري باید د روغتیا وزارت لارښوونې عملي کړي او له سرغړوونکو سره به قانوني چلند کېږي. دغه راز سرچینې ویلي چې عمره کوونکي به د کرونا د پي سي ار ټېسټ سند ولري چې له سفر څخه ۷۲ ساعته مخکې یې کړی وي. دغه راز په خبرپاڼه کې راغلي چې عمره کوونکو باید په ځانګړي اپلېکېشن کې ځان راجستر کړی وي او له ځانه سره د بېرته تګ ټکټ هم ولري.

### وزارت تجارت:
## اکثریت موارد مشکلات تجارتی میان نماینده گان پاکستان و افغانستان حل شده اند



در آخرین روز نشست مشترک بازرگانی افغانستان وپاکستان شانزده مورد مشکلات میان نماینده گان دوکشور حل شده اند. نامزد وزیر صنعت وتجارت این نشست را پردست آورد میداند ومیگوید که بزودی وزیر تجارت پاکستان ازافغانستان دیدن خواهند کرد.
درنتیجه نشست های مشترک نماینده گان حکومتی افغانستان وپاکستان درباره ترانزیت وبازرگانی میان دوکشور، نامزد وزیر تجارت میگوید که دراین نشست ها ازبیست ویک مورد مشکلات وچالش های دوکشور درترانزیت وبازرگانی ، شانزده مورد آن حل شده اند.
نثار احمد غوریانی نامزد وزیر صنعت وتجارت گفت: «شش موارد دیگر باقی می ماند که مربوط به اپتا است که آن را با آمدن وزیر تجارت پاکستان به افغانستان بعد از بررسی ها، روی آن ها کار می شود.» دراین نشست ها به شمول اجازه به موترهای باربری افغانستان به بندر واگه، بحث روی موافقتنامه ترانزیتی وبازرگانی افغانستان وپاکستان نیز گفتگو شده است. محمد یونس مهمند معاون اتاق تجارت وسرمایه گذاری گفت: «مشکلاتی که تجاران پاکستان در افغانستان دارند به آن باید رسیدگی شود و مشکلاتی که ما با بنادر داریم. یک کار خوب این است که پارلمان آنان به این وادار شده که ما روی افغانستان احسان نمی کنیم بل منافع افغانستان برای ما می رسد.»
اتاق تجارت وسرمایه گذاری میگوید که افغانستان راه ها بدیل پاکستان را درمنطقه جستجو کرده است واکنون پاکستان نیازدارد که برای بهبود بازرگانی اش با افغانستان وآسیایی میانه چالش ها فراراه بازرگانی میان دوکشور را بردارد.

## ژوند

## دغه طبي بوټي د سرطان مخه نیسي



له طبي بوټو څخه ترلاسه کېدونکي مسالې او خواړه بې شمېره روغتیایي ګټې لري او که له نورو ګټورو سبزیجاتو سره یو ځای وکارول شي، نو د سرطان مخه نیولی شي. لومړی، شبت د مونوترپین نومې مرکب لرلو له امله تیز خوند او ډېرې روغتیایي ګټې لري. دویم، هوږه ارجینین، سلفر، سلینیم اوفلونایډ مختلف ډولونه لري. د هوږې ګټور مرکبات له الیسین څخه رامنځته کېږي کوم چې د هوږې له میده کولو څخه وروسته رامنځته کېږي. هوږه د باکتریا ضد ځانګړنه لري او په فعاله توګه په بدن کې د سرطان لامل کېدونکو موادو او حجراتو د رامنځته کېدو مخه نیسي.
درېیم،د نعنا پاڼې داسې فیتوکېمېکلز لري چې سرطاني تومورونو ته د وینې جریان پرې کوي او له منځه یې وړي. څلورم هم کورکمن، د کورکومین په نوم ګټور مواد لري. کورکومین یو پیاوړی انټي اکسېډېنټ دی چې د ازادو رادیکالونو پر وړاندې مبارزه کوي او د سرطاني حجراتو د ودې مخه نیسي. مختلفو څېړنو ثابته کړې چې کورکومین روغ حجراتو ته له زیان رسولو پرته سرطاني حجرات وژني.

## وټس‌اپ به نور د ټولو کاروونکو لپاره وړیا نه وي

فېسبوک اعلان وکړ چې تر دې وروسته به وټس‌اپ د ټولو کاروونکو لپاره وړیا نه وي او سوداګریزو حسابونو لرونکو ته به ځینې خدمتونه په پیسو وړاندې کوي.که څه هم فېسبوک د دغو خدمتونو لګښت په اړه څه نه دي ویلي، خو په ډاګه یې کړه چې سوداګریزو حسابونو لرونکو لپاره به له دې وروسته ټول خدمتونه وړیا نه وي. د وټس‌اپ سوداګریز حساب کوچنیو سوداګریو او نویو جوړو شویو شرکتونو ته اجازه ورکوي چې له خپلو پېرېدونکو سره په نېغه توګه اړیکه ونیسي او خپل توکي وپلوري. فېسبوک وایي چې له دې پرېکړې څخه وروسته به د نویو ځانګړنو د اضافه کولو لپاره نوره پانګونه هم وکړي. په دې وروستیو کې فېسبوک په وټس‌اپ کې د پېرلو




اسانتیا او تنۍ هم اضافه کړي چې په مرسته یې کاروونکي کولی شي له خپل وټس‌اپ څخه له وتلو پرته خپل د خوښې توکي وپېري، خو دغه ځانګړنه اوسمهال اکثره په اسیایي هېوادونو کې کاروونکو ته نه ده وړاندې شوې.
د وټس‌اپ سوداګریزو ځانګړنو څخه ملاتړ کوونکې کاریال او حسابونه په ۲۰۱۸ ز کې وړاندې شول او فېسبوک وایي چې د ورځې ۱۷۵ میلیونه خلک د دغه ډول حسابونو له لارې سره اړیکه نیسي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

